# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت

## ریاست اطلاعات و ارتباط عامه

# بولتن خبری

# News Bulletin

**31حمل_سال 1401**


اخبار مهم
افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

**عنوان** **صفحه**

متن کامل اخبار ---------------------------------------------------------------------------------------------------4

متقی و عبداللهیان در مورد وضعیت مهاجران افغان مقیم ایران صحبت کردند-----------------------------------------4

بدخشان کې (۳٤۳) کورنیو سره مرسته وشوه ------------------------------------------------------------------5

بیش از هزار نفرمهاجرافغان ازایران به وطن برگشت نمود ----------------------------------------------------------6

ننګرهارکې (۱۲۹۸) اړمنو بېځایه شوو کورنیو سره مرسته و شوه---------------------------------------------------7

کمیسار حقوق بشر حکومت آلمان خواستار پایان دادن به "رفتار نابرابر" با پناهجویان از کشور های مختلف شد -----8

یونان دغه هیواد ته «د کډوالو د ورتګ د منصرف کولو لپاره» زرګونه مهاجر بندیان کړي دي -----------------------9

ترکیه: بلغاریا د افغانانو په ګډون ۸۴ کډوال په نیمه لوڅ حالت کې ترکیې ته استولي-------------------------------12

# متن کامل اخبار

## متقی و عبداللهیان در مورد وضعیت مهاجران افغان مقیم ایران صحبت کردند

صدای امریکا




**به دنبال تنش‌های اخیر میان حکومت طالبان و ایران، امیر خان متقی، سرپرست وزارت خارجهٔ طالبان، با حسین امیر عبداللهیان، وزیر خارجهٔ ایران، درباره مشکلات عمومی مهاجران افغان مقیم آن کشور، رویدادهای اخیر، روابط دوجانبه، تامین امنیت نمایندگی‌های دپلوماتیک و دپلومات‌های ایران در افغانستان، تجارت و برخی موضوعات صحبت کردند.**

**وزارت خارجهٔ حکومت طالبان گفته است که قرار است هیاتی از افغانستان به زودی عازم ایران شود تا در مورد مسایل مربوط به مهاجرین و بازداشت شدگان افغان گفتگو کند.**

**مقام‌های طالبان گفته اند دو طرف تایید کردند که برخی حلقات "مغرض" تلاش می‌کنند تا با استفاده از رسانه‌ها بین مردم افغانستان و ایران نفرت و خصومت ایجاد کنند و زمینه را برای خشونت فراهم کنند.**

**ضیا احمد تکل، معاون سخنگوی وزارت خارجهٔ حکومت طالبان، گفت: "برای جلوگیری از این مشکلات، هر دو طرف متعهد شدند که اجازه ایجاد فضای کینه توزانه و فاصله بین دو کشور و ملت دوست و همسایه را نخواهند داد".**

پس از حمله با چاقو از سوی یک مهاجم اوزبیک تبار بر سه روحانی ایرانی در صحن حرم امام رضا در شهر مشهد ایران که منجر به کشته شدن دو روحانی و زخمی شدن یکی دیگر از آنان شده است، بدرفتاری با مهاجران افغان مقیم ایران شدت گرفته و به پیمانهٔ گسترده در شبکه‌های اجتماعی بازتاب یافته است.

در ادامهٔ این تنش‌ها، برعلاوهٔ تظاهرات برخی از شهروندان افغان در کابل، هرات و خوست، قنسولگری ایران در هرات هدف حملهٔ سنگ اندازی معترضان قرار گرفت و دروازهٔ آن به آتش کشیده شد؛ تظاهراتی که منجر به احضار شارژدافیر افغانستان به وزارت خارجهٔ ایران شد.

در پی صحبت تلیفونی متقی و عبداللهیان، وزارت خارجهٔ ایران نیز با نشر اعلامیه‌ای گفته است که این کشور نگاهی مثبت و سازنده به افغانستان دارد و در همین چارچوب، تبادل هیات برای همکاری‌های بین دو کشور صورت می‌گیرد؛ کمک‌های بشری ارسال می‌شود و نمایندگی‌های سیاسی برای عرضهٔ خدمات به مردم افغانستان باز نگه داشته شده است.

این وزارت افزوده است: "از هیات حاکمه موقت افغانستان انتظار داریم در زمینه حفظ کامل امنیت اماکن دیپلوماتیک و دیپلومات‌های جمهوری اسلامی ایران، کنترول مرزها و عدم اجازه به عابرین غیر مجاز و همچنین عمل به تعهدات دوجانبه خود مطابق قراردادهای لازم الاجرای فی مابین از جمله در حوزه حقابه ایران و آب های مرزی همکاری لازم و جدی را داشته باشد".

سید جواد سجادی، کارشناس روابط بین‌المللی، به این نظر است که روابط کابل – تهران پس از تسلط طالبان بر افغانستان وارد مرحلهٔ تازه شده، چون تاکنون حکومت طالبان را جامعهٔ بین المللی و کشورهای منطقه و همسایهٔ افغانستان به رسمیت نشناخته و ایران نیز از همین قاعده پیروی کرده است.

آقای سجادی افزود که ایران از همین‌رو در کنار تلاش برای تداوم روابط اقتصادی و تجاری، در رابطه به مسالهٔ سیاسی برخورد محتاطانه دارد. او همچنان گفت که ایران تلاش می‌کند تا با یک سیاست معتدل، طالبان را وادار کند که قاعده‌های حکومت را وسیع‌تر سازد و حکومتی را بسازد که از واقعیت‌های افغانستان نمایندگی کند.

ایران از جمله کشورهای انگشت‌شماری است که از خروج امریکا و هم پیمانانش از افغانستان خرسند است، اما از وضعیت کنونی در افغانستان ناخرسند.

تهران طی هشت ماه گذشته همواره بر ایجاد حکومت همه شمول و فراگیر در افغانستان تاکید کرده است.

## بدخشان کې (۳۴۳) کورنیو سره مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت



**د یوشمېر مرستندویه ادارو له لورې د بدخشان ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست په همکارۍ (۳۴۳) اړمنو کورنیو سره نغدي او روغتیایي کڅوړو مرسته وشوه.**
**د یادو کورنیو له ډلې د (CONCER) له لورې د طبعيي پېښنو او جګړو له امله (۱۲٦) کورنیو هرې کورنۍ ته (۱۵۰) امریکایي ډالره، د ولږې پروړاندې د مبارزې اداري له لورې د کشم ولسوالۍ (۱۰۳) کورنیو هرې کورنۍ ته (۲۱۰۰۰) افغانۍ او د ډاکار موسسې له لورې په مرکز فیض اباد کې (۱۱٤)کورنیو هرې کورنۍ ته یوه یوه روغتیایي کڅوړه وویشل شوه.**

## بیش از هزار نفرمهاجرافغان ازایران به وطن برگشت نمود

ویب سایت وزارت



**به اساس گزارش آمریت امورمهاجرین نیمروز یک هزارو 766 نفر مهاجر، به تاریخ 29 حمل طور اجباری و داوطلبانه ازایران به وطن برگشت نمودند.**

**از میان افراد مذکور44 خانواده، شامل187 تن و 1235 تن دیگرافراد مجرد بودند که طور اجباری و14 خانواده شامل64 تن و280 تن مجرد بصورت داوطلب واردکشور شده اند.**

**به گفته منبع ازآن میان 58 خانواده شامل131 مرد و120 زن وهمچنان 600 تن مجرد، غرض دریافت کمک، به دفتر IOMمعرفی شدند.**

## ننګرهارکي (۱۲۹۸) ارمنو بېځایه شوو کورنیو سره مرسته و شوه

ویب سایت وزارت



د کپو موسسې له لورې د ننگرهار ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست په همکاری (۱۲۹۸) اړمنو بېځایه شوو کورنیوسره نغدې او روغتیایي کڅوړو مرسته وشوه .

یادې کورنی چې د ننگرهار مهاجرینو ریاست له لورې د مرستندویه اداروسره په گډه همغږۍ په سرخرود او کامې ولسوالی کې سروې او د مرستولپاره مستحقې کنل شوې وې د رمضان په (۱۸) مه هرې کونی ته (۷۰۰۰) افغانی نغدې او یوه یوه روغتیایي کڅوړه ووېشل شوه.

ددغه مرستو دوېش پرمهال د ننگرهار مهاجرینو رییس اکرام الدین مفتون وویل، موږ د مرستندویه بنسټونو سره په گډه په دې هڅوکې یو چې د مرکز جلال اباد په شمول لرې پرتو ولسوالیو ته هم رسیدگي وکړو،ترڅو اړمنې اومستحقې کورنې سروې اود مرستولپاره په نښه او ورسره بېلابېلې مرستې ترسره کړو

## کمیسار حقوق بشر حکومت آلمان خواستار پایان دادن به "رفتار نابرابر" با پناهجویان از کشور های مختلف شد

مهاجر نیوز

لوئیز آمتسبرگ کمیسار حقوق بشر حکومت آلمان فدرال، خواستار این است که با پناهجویان از کشورهایی مانند افغانستان و سوریه رفتار برابر با کسانی که به دنبال حمایت از اوکراایین هستند، صورت گیرد.

لوئیز آمتسبرگ کمیسار حقوق بشر حکومت آلمان فدرال به روزنامه آلمانی "نوین اوسنابروک" (نسخه روز سه شنبه ۱۹ اپریل ۲۰۲۲) گفته است که پناهنجویان اوکراینی در آلمان فرصت های بیشتری نسبت به سایر کشورها دارند .

**او گفته است که مثلاً پناهجویان اوکراینی می توانند در هر جایی که می خواهند زندگی کنند و بلافاصله کار کنند. او در ادامه گفته است که از سوی دیگر، حقوق پایین پناهندگان از کشورهای دیگر، "متاسفانه نتیجه سال ها سیاست اشتباه است".**

**آمتسبرگ که از حزب سبز های آلمان است و حزب اش یکی از احزاب ائتلافی حکومت می باشد، می گوید که برای پایان دادن به "رفتار نابرابر" میان پناهجویان کشور های مختلف، پروژه های سیاست پناهندگی توافقنامه ائتلافی احزاب باید "به سرعت اجرا شوند ."**



لوئیز آمتسبرگ کمیسار حقوق بشر حکومت آلمان فدرال

**آمتسبرگ تأکید کرد که در اوایل سال ۲۰۱۵، زمانی که مردم عمدتاً از سوریه به آلمان آمده بودند، حزب سبزها می خواستند به کسانی که به آلمان وارد می شوند فرصت کار، فراهم آوری معیشت زندگی شان توسط خود شان و شرکت در دوره های کورس های آموزشی زبان داده شود .**

**در توافقنامه احزاب ائتلافی، سبزها سپس اهدافی مانند حذف محدودیت های بازار کار و دسترسی به دوره های آموزشی زبان برای همه گروه ها را اجرایی کردند.**

## یونان دغه هیواد ته «د کډوالو د ورتګ د منصرف کولو لپاره» زرګونه مهاجر بندیان کړي دي

مهاجر نیوز

یونان کې نږدې ۲۰۰۰ پناه غوښتونکي «د کډوالو د قاچاق» په تور په زندان کې دي. دوی په معموله توګه د کډوالو د بېړیو د چلولو په تور په بند محکوم شوي دي. مهاجر پلوه سازمانونه د یونان پر دغه سیاست نیوکه کوي او وایي چې د دې سیاست هدف له ترکیې څخه یونان ته د کډوالو د راتګ مخنیوی دی.

امیر ظاهري او عاکف رسولي اوس په زندان کې دي. د میتلین محکمې د دوی د استیناف غوښتنه د اپریل پر ۷مه یو ځل بیا وځنډوله. ټاکل شوې ده چې د یادو کډوالو د استیناف محاکمه د ۲۰۲۲ د ډسمبر پر ۸مه ترسره شي. محکمې د ۲۰۲۰ په سپټمبر میاشت کې دغه ۲۷ او ۲۴ کلن افغانان یونان ته د کډوالو د راتګ زمینې برابرولو په تور په ۵۰ کاله بند محکوم کړي وو .

عاکف رسولي زندان ته له ورتګ مخکې له خلکو او سازمانونو د مرستې غوښتنه وکړه. برتانوی ورځپاڼه ګارډین د نوموړي له قوله وایي: «موږ یوازې مهاجر یو، قاچاق وړونکي نه یو.» نوموړي دا هم ویلي چې د کډوالو د ډوبېدو د مخنیوي لپاره یې بېړی چلولې ده. په وینا یې: «موږ اروپا ته د رسېدو او ازادی ته د لاسرسي لپاره له افغانستانه ووتلو. موږ عدالت غواړو، غواړو چې غږ مو واورېدل شي«.

لګول شوی تور «قانوني بنه نه لري«

دغه دوه ځوان کډوال د ۲۰۲۰ په مارچ میاشت کې په یوه کښتۍ کې لېسبوس ټاپو ته ورسېدل. یاده کښتۍ کې ۲۰ تنه نور مهاجر هم سپاره ول. دوی یوناني چاراواکو په اژه سمندر کې وژغورل. د یوه یوناني پولیس ساتونکي په حواله، امیر ظاهري او عاکف رسولي د کډوالو بېړۍ خرابه کړې وه چې ممکن و د بېړۍ د ډوبېدو لامل شي .محکمې دغه تور رد کړ، خو څارنوال بیا وویل چې دوی یونان ته «د کډوالو د غیرقانوني راتګ زمینه» برابره کړې ده.

خو ایا دغه تور قانوني بنه نه لري؟ د لېسبوس حقوقي مرکز په نامه سازمان غړې ماریون بوشتل کډوال نیوز ته وایي: «دوی په دې تورن دي چې ګواکي قاچاق وړونکي دي، خو دا ادعا هېڅ قانوني بنه نه لري. د پولیس ساتونکي ویناوو کې داسې کومې مسلې ته اشاره شوې نه ده .محکمې دغه دوه کډوال «د نورو د ژوند په خطر کې اچولو» له تور برائت ورکړ، خو بیا یو بل تور پرې ولګول شو...» د عاکف رسولي مدافع وکیله ویکي انجلیدو بیا وایي: «دوه لسو نورو مهاجرو چې همدغه کښتۍ کې سپاره وو یوه بیانیه خپره کړې چې له مخې یې دغه دوه افغانان بېړۍ چلوونکي نه دي«.

یو سومالیایی کډوال په ۱۴۶ کاله بند محکوم شوی

د کډوالو لپاره اروپایي شورا بیا دا ادعا ردوي. دغه سازمان وایي چې کښتۍ لېسبوس ټاپو ته نږدې له خپل مسیره منحرفه شوې ده چې له امله یې دوو کډوالو خپل ژوند له لاسه ورکړی و. محمد هناد عبدي سیمي ته د پولیس ساتونکو له رسېدو پر مهال بېړۍ چلوله، خو هدف یې د ډوبېدو پېښو مخنیوی و. یاد کډوال له زندانه ویلي: «که ما دا کار نه وای کړای، موږ خپل ژوند له لاسه ورکړی وای«.

د دفتي تولیس په نامه خبریالي بیا پر خپله تویټر پاڼه لیکلي چې: «کښتۍ کې سپاره نور مهاجر په محکمه کې حاضر ول. دوی وویل چې محمد یې ژوند ژغورلی دی«.

نږدې ۲۰۰۰ پناه غوښتونکي د ورته تورونو له امله زندان کې دي

د امیر، عاکف او محمد په څېر زرګونه پناه غوښتونکي د ورته تورونو له امله یوناني زندانونو کې بندیان دي. د بارډرلاین یوروپ سازمان وایي چې یوازې تېره اونۍ د بېړۍ چلوونکو پر وړاندې ۱۰ محاکمې ترسره شوې دي.

دغه محاکمې د پوله ساتونکو د ویناوو پر اساس ترسره کېږي. مانا یې دا چې د پېښنو په اړه ځانګړې پلټنه نه کېږي او د هغو مهاجرو غږونه هم نه اورېدل کېږي چې وایي له مجبورۍ یې کښتۍ چلولې ده او یا یې کښتۍ نه ده چلولې.

د محمد هناد عبدي مدافع وکیل الکساندروس ګیورګولیس ګارډین ته ویلي دي: «له بنده مرغه زموږ زندانونه ډک دي. هغه کښتۍ چې ټاپوګانو ته رسیږي له ورته برخلیک سره مخ کیږي. که چېرې بېړۍ کوم چلوونکی و نه لري، یوناني پولیس یا پوله ساتونکي په خپله خوښه یو مهاجر په بېړۍ چلولو تورنوي«.

د سازمانونو د یو راپور له مخې چې په ۲۰۲۰ کې خپور شوی دی د انساني قاچاق په تور محکوم شوي پناه غوښتونکي یونان کې د بندیانو یوه لویه ډله جوړوي. د لېسبوس حقوقي مرکز غړې ویکي انجلیدو په حواله: «دمګړۍ ۱۹۷۰ کسان د ورته تورونو له امله په زندان کې دي. د دغو کسانو له ډلې ځیني یې د محکمو پرېکړو ته انتظار باسي، خو پاتې برخه یې بیا په بند محکومه شوې ده«.

د «منصرف کولو» طریقه

دغه پروسه د ۲۰۱۵ او ۲۰۱۶ کلونو کې د کډوالۍ کړکېچ پر مهال پیل شوه، خو د ۲۰۲۰ له مارچ راهیسې چټکه شوې ده. هغه مهال د ترکیې ولسمشر اردوغان د کډوالو پر مخ خپلې اروپایي پولې پرانیستلې وې چې له امله یې زرګونو مهاجرو هڅه وکړه چې یونان ته ننوځي.

د کډوالو لپاره د یونان شورا مشر لېفتریس پاپاجیاناکیس کډوال نیوز ته وایي چې «د پناه غوښتونکو د مجرم پېژندلو سیاست موخه یونان ته د مهاجرو د راتګ مخنیوی دی.«

اتن بیا دغه ادعاوې ردوي او وایي چې محکمې عادلانه دي. د یونان د کډوالۍ وزیر نوتیس میتاراچي په ۲۰۲۱ کې نیویارک ټایمز ته استول شوې بیانیه کې ویلي وو چې «یونان کې د امریکا او ټولو لوېدیځو هیوادونو په څېر محکمې پیاوړې او خپلواکې دي. دوی د پېښنو پر بنسټ پرېکړه کوي«.

**ماریون بوشتل بیا وایي چې یوناني چاراوکي تل وایي چې هدف یې د پولو ساتل دي. په وینا یې دوی د کډوالو د په شا تمبوني لپاره هم دغه دلیل ته اشاره کوي.**

**قاچاق وړونکي په معموله توګه د هغو کډوالو کښتیو کې نه پاتې کېږي چې له ترکیې څخه د یونان پر لور حرکت کوي. کله چې کښتی یوناني اوبو ته داخلیږي، دوی کډوالو ته وایي چې کښتی دې وچلوي. خو ډېری وختونه مهاجر له دغه کار څخه ډډه کوي. ماریون بوشتل وایي چې ډېری کډوال وایي چې نن سبا کښتۍ کې سپاره کسان چمتو نه دي چې بېړۍ وچلوي.**

## ترکیه: بلغاریا د افغانانو په ګډون ۸۴ کډوال په نیمه لوڅ حالت کې ترکیې ته استولي


مهاجر نیوز

**د ترکیې یوه امنیتي سرچینه وایي چې بلغاریایي پوله ساتونکو لږ تر لږه ۸۴ کډوال چې په ډله کې یې افغانان هم دي په نیمه لوڅ حالت کې ترکیې ته اخراج کړي دي.**

**د ترکیې خبري اژانس اناتولي د یوې امنیتي سرچینې له خولې وایي چې بلغاریایي ځواکونو لږ تر لږه ۸۴ کډوال په نیمه لوڅ حالت کې له خپلې خاورې څخه شړلي او ترکیې ته یې استولي دي.**

**سرچینې د خپل نوم د نه ښودلو په شرط وویل چې ترکي ځواکونو د دغه هیواد د شمال لوېدیځ کېرکلارلي ولایت کوفچاز کلي کې د ګزمې پر مهال په یوه ځنګل کې ۸۴ کډوال موندلي چې په نیمه لوڅ حالت کې وو.**

**د سرچینې په حواله موندل شوي کډوال د افغانستان، سوریې، مراکش او ایران اتباع دي او د پلاستیکي خلطو په اغوستلو سره یې غوښتل چې ځان له سړې هوا خوندي وساتي.**




انځور: گوګل مپ

**د یادو مهاجرو له قوله ویل شوي دي چې دوی له یونانه بلغاریا ته رسېدلي وو، خو بلغاریایي ځواکونو ونیول. دوی زیاته کړې ده چې بلغاریایي سرتېرو يې ټول وسایل نیولي او په نیمه لوڅ حالت کې يې ترکیې ته استولي دي.**

**د یو بل خبر له مخې ترکي ځواکونو د کېرکلارلي په کوفچاز کلي کې د افغانانو په ګډون د کډوالو یوه ۱۰۳ کسیزه ډله نیولې ده. دغو کډوالو کې مراکشي، سوریایي، تونسي او ایراني اتباع هم شامل دي.**

**نیول شوي مهاجر پولیسو د اخراج ځایي مرکز ته لېږدولي دي.**

**ترکیه د هغو کډوالو لپاره چې غواړي د یو ښه ژوند د موندلو په موخه اروپا ته ځانونه ورسوي، د ترانزیټ یوه مهمه لاره بلل کیږي. له تېرو څو وختونو راهیسې دغه هیواد د کډوالو پر وړاندې خپل مهاجرتي سیاست سخت کړی دی.**